هفته واره رساله

# د شُکر برکتونه

(پښتو)



د نعمتونو په یاد سره په محبت الٰهی کښې اضافه

د یو کس په برکت د ټولو حاجتونه پوره

د هلاکت نه محفوظه

د وظائفو په اثر کولو کښې شرائط

## وړومبے دا ولولئ

د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي د مجلسِ "الـمدينة الـعلميه (اِسلامک ريسرچ سينټر، دعوتِ اِسلامي) " له خوا يو څو کاله مخکښې دوه کتابونه "اَلشُّکرُ لِلّٰهِ" (اُردو نوم: شکر کے فضائل) او " جلد بازی کے نقصانات" جاري شوي، د دې دواړو کتابونو لوستل د هر مسلمان د پاره ډير فائده مند دي- " اَلشُّکرُ لِلّٰهِ " کتاب تقريباً يولس نيم سوه [1150] کاله مخکښې عظيم بزرګ حضرت اِمام ابو بکر عبد الله بن محمد قرَشي المعروف اِمامِ ابن ابي دُنيا رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ليکلے دے د کوم اُردو نوم چې "شُکر کے فضائل" دے او کتاب " جلد بازی کے نقصانات" د الـمدينة الـعلميه شعبې " اصلاحي کتب" له خوا تيار کړے شوے دے- دا دواړه کتابونه د خپلې موضوع او مضمون په لحاظ سره ډير ښکلي دي- اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطّار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَکَاتُهُمُ الۡعَالِيَه يو څو کرته په مَدَني مذاکره کښې د "شُکر کے فضائل" کتاب د لوستلو ترغيب اِرشاد کړے دے-اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! په دې رساله کښې د دې دواړو کتابونو د مختلفو ځايونو نه يو څو اهمې خبرې را جمع کړے شوې دي- د دې رسالې د لوستلو سره به د عِلمِ دِين د شوق لرونکو د دواړو کتابونو د لوستلو ذِهن جوړ شي- د الله پاک د رضا او ثواب حاصلولو د پاره يې پخپله هم ولولئ او خپلو مرحومانو ته يې د ايصالِ ثواب کولو د پاره تقسيم هم کړئ- الله پاک دې په دې کتاب د کار کوونکو په عِلم او عمل کښې ښۀ ډير برکتونه عطا کړي او مونږ دې د دې کتابونو د فيضان نه مالا مال کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

والسلام مَعَ الاِکرام

طالبِ غمِ مدينه وبقيع و بے حساب مغفرت

ابو محمد طاهر عطاري مَدَني عُفِيَ عَنه

شعبه هفته وار رساله مطالعه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

# د شُکر برکتونه

دُعائے عطّار: یا رَبِّ کریمه! څوک چې دا رساله " د شُکر برکتونه " ولولي یا واوري هغۀ پۀ هر حالت کښې د صبر او شُکر کولو والا جوړ کړې او هغۀ د مور او پلار او د خاندان سره بے حسابه وبخښې-

اٰمِین بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

د اخري نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَكَ یَوْمَ الْقِیَامَةِ کوم کَس چې داسې دُرُودِ پاک ولولي د هغۀ د پاره زما شفاعت واجِب شي- (الترغیب والترهیب، 2/329، حدیث:30)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## " د شُکر فضائل" کتاب نه یو څو اهمې خبرې

❁ عظیم تابعي بزرګ حضرت اِمام حَسَن بَصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَیْه فرمائي: بے شکه الله پاک چې تر څو پورې غواړي نو د خپل نعمت نه خلقو ته فائده رسوي او چې کله د هغۀ ناشُکري وکړے شي نو هغه د هغۀ د پاره عذاب جوړ کړي-

(شُکر کے فضائل، ص: 10)

❁ د مسلمانانو څلورم خلیفه حضرت مولیٰ علي رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ پۀ همدان والؤ کښې یو کَس ته ارشاد وفرمائیلو: بے شکه د نعمت تعلق د شُکر سره دے او د

شُکر تعلق د نعمتونو د زیات والي سره دے، دا دواړه د یو بل د پاره لازم دي- بس د الله پاک د طرف نه د نعمتونو زیات والے تر هغه وخته پورې نۀ ودریږي تر څو پورې چې د بنده د طرف نه شُکر ونۀ دریږي- (شُکر کے فضائل، ص: 11)

## نعمت به تر مرګه پورې باقي وي

❁ حضور نبي اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: الله پاک چې یو بنده ته د اهل، مال او اولاد په شکل کښې څۀ نعمت عطا کړي بیا هغۀ ووائي: مَا شَآءَ اللہُ لَا قُوَّۃَ اِلَّا بِاللہِ یعنې چې څۀ الله پاک غواړي، د نیکۍ د طاقت توفیق هم د هغۀ سره دے- (یعنې شُکر ادا کړي) نو هغۀ په هغې کښې د مرګ نه علاوه هیڅ افت نۀ ویني- (شعب الایمان، 89/4، حدیث: 4369) (شکر کے فضائل، ص 20)

## د شُکر بنیاد

❁ د شُکر اَصل دا دے چې انسان د نعمت تصور او د هغې اِظهار کوي او د شُکر حقیقت دا دے چې مُنعِم (یعنې د نعمت ورکوونکي) د نعمت د هغې د تعظیم سره اعتراف وکړي او نفس د هغې عادي جوړ کړي- دلته یوه باریکي ده هغه دا چې بنده کله د الله پاک د نعمتونو او د هغۀ د قِسما قِسم فضل او کرم او اِحسان په باره کښې مطالعه کوي نو هغه د هغۀ په شُکر کښې مشغوله وي د دې سره نعمتونه زیاتیږي او د بنده په زړۀ کښې د الله پاک محبت زیاتیږي- دا مقام ډیر اوچت دے او د دې نه اعلیٰ مقام دا دے چې د مُنعِم محبت تر دې پورې غالِب شي چې د زړۀ د نعمتونو طرف ته اِلتِفات (یعنې توجه) باقي پاتې نۀ شي، دا مقام د صِدِّیقانو دے- الله پاک دې په خپل فضل مونږ ته د شُکر توفیق راعطا کړي-
(شُکر کے فضائل، ص: 21)

## د نعمت د پاسه نعمت

❁ حضرت ابو عقیل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي چې ما دحضرت بکر بن عبد الله رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه واوریدو چې " بنده کله هم اَلْحَمْدُلِلّٰه! وائي نو داَلْحَمْدُلِلّٰه! وئیلو پهٔ برکت د هغهٔ د پاره نعمت لازم شي-" ما پوښتنه وکړه: د دې نعمت بدله څهٔ ده؟ (ارشاد یې وفرمائیلو:) د دې بدله هم د بنده اَلْحَمْدُلِلّٰه! وئیل دي- بس (پهٔ دې وئیلو به هغهٔ له) یو بل نعمت راشي ځکه چې د الله پاک نعمتونه نهٔ ختمیږي-

(شُکر کے فضائل، ص: 23)

## د نعمتونو پهٔ یادولو سره پهٔ محبتِ اِلٰهی کښې اضافه

❁ حضرت ابو سلیمان واسطي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: د الله پاک پهٔ نعمتونو یادولو پهٔ زړهٔ کښې د هغهٔ محبت پیدا کیږي- (شُکر کے فضائل، ص: 28)

## د رَبُّ العِزَّت پهٔ بارګاه کښې حاضري

❁ حضرت عبدُ الله بن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: بے شکه الله پاک به د قیامت پهٔ ورځ خپل بنده پهٔ خپله بارګاه کښې حاضر کړي او هغهٔ ته به خپل نعمتونه حسابوي (د دومره بیانولو نه پس) حضرت عبد الله بن سلام رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ډیر وژړل بیا یې وفرمائیل: زهٔ اُمِید لرم چې الله پاک به بنده له پهٔ خپله بارګاه کښې د حاضرولو نه پس عذاب نهٔ ورکوي- (شُکر کے فضائل، ص: 30)

## د ویرې خبره

❁ د الله پاک خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائیلے دے: چې کله تهٔ ووینې چې الله پاک خپل بنده ته د هغهٔ د نافرمانۍ باوجود د هغه د خواهشاتو مطابق عطا کوي نو دا د هغهٔ د طرف نه هغه ته مهلت دے-

(مسند احمد، 122/6، حدیث:17313) (شکر کے فضائل، ص34)

## د حضرت داؤد عَلَیۡہِ السَّلَام شُکر

❁ حضرت داؤد عَلَیۡہِ السَّلَام د الله پاک داسې حمد وکړو: " اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ حَمۡدًا کَمَا یَنۡبَغِیۡ لِکَرَمِ وَجۡہِہٖ رَبِّیۡ جَلَّ جَلَالُہٗ" (یعنې د الله پاک د پاره داسې حمد دے لکه څنګه چې د هغهٔ د عزت سره ښائي) نو الله پاک حضرت داؤد عَلَیۡہِ السَّلَام ته وحي وفرمائیله: اے داؤده! تا فرښتے پهٔ مشقت کښې اچولې دي- (یعنې داسې حمد فرښتے هم نهٔ شي کولے)

(شکر کے فضائل، ص 36)(شعب الایمان، 139/4، حدیث: 4582 بِتغیرٍ)

## د الله پاک پهٔ ذِکر باندې لَـمده ژبه

❁ حضرت موسیٰ کلیمُ عَلَیۡہِ السَّلَام د الله پاک پهٔ بارګاه کښې عرض وکړو: ستا شُکر څنګه ادا کول پکار دي؟ ارشاد وشو: اے موسیٰ! چې ستا ژبه زما پهٔ ذِکر باندې همیشه لَـمده وي- (شکر کے فضائل، ص 38)

## آه! پهٔ نافرمانۍ باندې هم د انعامونو باران

❁ حضرت مالِک بن دِینار رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ فرمائي: ما پهٔ یو کتاب کښې لوستلي دي چې الله پاک اِرشاد فرمائي: اے ابنِ آدمه! پهٔ تا باندې زما خیر نازلیږي خو زما خوا له ستا شر رارسي، زهٔ د نعمتونو پهٔ ذریعه ستا سره د محبت اِظهار کووم او تهٔ زما پهٔ نافرمانو کولو زما د ذِکر نه غافله اوسې او عزت والا فرښته همیشه ستا بد عمل زما خوا له راوړي او حاضریږي- (شُکر کے فضائل، ص: 39)

## د بخښنې زیرے

❁ د اخري نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: الله پاک چې یو بنده ته نعمت ورکړي او هغهٔ د دې خبرې یقین کوي چې دا د الله پاک د طرف نه دے نو الله پاک د هغهٔ د پاره د هٰغه نعمت شُکر ادا کول لیکي او چې کله الله

پاک پهٔ ګناه باندې د بنده پښیمانتیا وینې نو هُم د هغهٔ د بخښنې غوښتو نه مخکښې هغهٔ بخښي او چې کله یو کَس په دِینار باندې کپړه اخلي او اغوندي یې او د الله پاک شُکر ادا کوي نو د دې نه مخکښې چې جامې د هغهٔ د ګیټو پورې رسي الله پاک هغهٔ وبخښي۔

(مستدرک، 196/2، حدیث:1937 بتغیرٍ قلیلٍ) (شکر کے فضائل، ص 41)

## بخښلے کیږي

❁ حضرت مُعاوِیَه بِن قُرَّه رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه فرمائي چې کوم کَس د نوو جامو اغوستو پهٔ وخت بِسۡمِ اللّٰہِ وَالۡحَمۡدُ لِلّٰه ووائي هغهٔ بخښلے کیږي او څوک چې د څه خوراک خوړلو پهٔ وخت بِسۡمِ اللّٰہِ وَالۡحَمۡدُ لِلّٰه ووائي هغهٔ هم بخښلے کیږي او څوک چې د اوبو څښلو پهٔ وخت بِسۡمِ اللّٰہِ وَالۡحَمۡدُ لِلّٰه ووائي هغهٔ هم بخښلے کیږي۔ (شُکر کے فضائل، ص: 41)

❁ د نبي کریم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چې کله الله پاک یو بنده ته نعمت عطا کړي نو پهٔ هغهٔ باندې د خپل نعمت اثر لیدل خوښوي۔

(معجم کبیر، 135/18، حدیث:281) (شکر کے فضائل، ص 43)

## د ویرې خبره

❁ الله پاک اِرشاد فرمائي: اے ابنِ آدمه! چې تهٔ پهٔ داسې حال کښې زما پهٔ نعمتونو کښې پاللے کیږې چې زما پهٔ نافرمانئ کښې هم ککړ یې نو زما نه ویریږهٔ چې چرته تا، ستا د ګناهونو پهٔ وجه هلاک نهٔ کړم۔ اے ابنِ آدمه! زما نه ویریږهٔ او چې چرته غوارې اودهٔ شه - (شعب الایمان، 143/4، حدیث:4535) (شکر کے فضائل، ص45)

## د شُکر ادا کولو والا قُلي (واقعه)

❁ حضرت بکر بن عبد الله رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡه بیانوي چې زهٔ د یو قُلي (یعني د پیټي اوچتوونکي) سره میلاؤ شوم کوم چې به پهٔ پیټي اوچتولو اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه او

اَستَغفِرُ الله وئيلو، ما د هغهٔ د فارغيدو انتظار شروع کړو چې کله هغهٔ د خپلې ملا نه بوج کوز کړو نو ما د هغهٔ نه پوښتنه وکړه: آيا تهٔ د دې نه څهٔ ښه کار نهٔ شې کولے؟ هغهٔ ووئيل: ولې نهٔ! زهٔ ښه کار کولے شم، قرآنِ پاک لوستلے شم خو بنده د نعمت او د ګناه ترمينځه وي ځکه زهٔ د هغهٔ پهٔ کامِل نعمتونو د هغهٔ شُکر ادا کووم او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو معافي غواړم- ما ووئيل: د دې ځائے قُلي هم د بکر بن عبد الله نه زيات هوښيار دے- (شُکر کے فضائل، ص: 48)

## د اوبو شُکر

❁ د الله پاک خوږ اخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې به کله اوبهٔ څښلې نو دا کلمات به يې وئيل: :" اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِىْ جَعَلَهٗ عَذْبًا فُرَاتًا بِرَحْمَتِهٖ وَلَمْ يَجْعَلْهُ مِلْحًا اُجَاجًا بِذُنُوْبِنَا" ترجمه: ټول تعريفونه الله پاک لره دي کوم چې صرف پهٔ خپل رحمت دا (يعنې اوبهٔ) خوږې، ډيرې ښې جوړې کړې او زمونږ (يعنې د اُمت) د ګناهونو پهٔ وجه يې دا تروې، ډيرې ترخې جوړې نهٔ کړې-

(کتاب الدعاء للطبرانی، ص 280، حدیث:280) (شکر کے فضائل، ص 50)

## عافيت او شُکر

❁ د يو عالِمِ دِين فرمان دے: ما پهٔ خپله معامله کښې ډير غور وفکر وکړو نو د عافيت او شُکر نه علاوه مې يو خير هُم د شَر نه خالي اونهٔ موندلو- ډير خلق پهٔ مصيبت کښې هم شُکر کوونکي اوسي او ډير خلق د عافيت باوجود شُکر ګزار نهٔ وي- بس چې کله تهٔ د الله پاک نه غواړې نو دا دواړه غواړه- (شُکر کے فضائل، ص: 53)

## عيبونه پټ دي

❁ حضرت سفيان ثَوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: (د الله پاک د طرف نه د بنده د عيبونو) پټول، د عافيت علامت دے- (شُکر کے فضائل، ص: 53)

## د هلاکت نه محفوظ

❁ حضرت ابو العالیه رُفیع بِن مَهرَان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: زما اُمید دے چې پهٔ نعمت باندې د الله پاک شُکر ادا کولو والا او د ګناه معافي غوښتلو والا بنده به نهٔ هلاک کیږي- (شُکر کے فضائل، ص: 57)

## د نعمت قدر

❁ د الله پاک خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے دے: چې پهٔ تاسو کښې چې څوک د الله پاک د نعمتونو قدر پیژندل غواړي نو د ځان نه د کم نعمت والؤ ته دې ګوري، زیات والؤ ته دې نهٔ ګوري-

(مسلم، ص 1211، حدیث:7430) (شکر کے فضائل، ص 58)

## پهٔ آئینه کښې د کتلو پهٔ وخت دُعا

❁ نبي مُکَرَّم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې کله پهٔ آئینه کښې خپل نوراني مخ ته کتل نو دا دُعا به یې لوستله: "اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ الَّذِیۡ سَوّٰی خَلۡقِیۡ فَعَدَلَهٗ وَکَرَّمَ صُوۡرَةَ وَجۡهِیۡ وَحَسَّنَهَا وَجَعَلَنِیۡ مِنَ الۡمُسۡلِمِیۡنَ" یعني ټول تعریفونه د الله پاک د پاره دي کوم چې پهٔ صحیح طریقه زهٔ پیدا کړم، زما مخ یې مکرم او ښکلے جوړ کړو او زهٔ یې پهٔ مسلمانانو کښې شامل کړم- (شعب الایمان، 111/4، حدیث:4458) (شکر کے فضائل، ص 71)

## پهٔ مصیبت کښې نعمت

❁ حضرت حبیب بن عُبَید رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: الله پاک چې بنده پهٔ څهٔ مصیبت کښې هم اخته کړي نو پهٔ هغې کښې د هغهٔ نعمت هم وي او هغه دا چې الله پاک هغهٔ د دې نه پهٔ سخت مصیبت کښې اخته نهٔ کړو (حالانکې که هغهٔ غوښتلے نو د دې نه یې هم پهٔ سخت مصیبت کښې اخته کولے شو)-

(شُکر کے فضائل، ص: 76)

## د مصيبت راتلو سبب

❁ حضرت وَهب بن مُنبِّه رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: مصيبت ځکه نازليږي چې د دې پهٔ وجه بنده د رَبّ پهٔ بارګاه کښې دُعا وکړي- (شُکر کے فضائل، ص: 77)

## پهٔ نعمتونو باندې شُکر ادا کول د رَبّ خوښ عمل دے

❁ ستا رَبّ د دې زيات حق دار دے چې تهٔ ځان د دې خبرې عادت جوړ کړې چې د هغهٔ پهٔ نعمتونو باندې د هغهٔ شُکر ادا کړې- هغهٔ مخکښې هم پهٔ تا باندې احسان کولو اوس به هم کوي- پهٔ الله پاک مې دې قَسم وي! د هغهٔ شُکر ادا کول د بندګانو د بدلې ورکولو نه ډير اسان دے ځکه چې هغهٔ د بندګانو نه پهٔ دومره شُکر باندې راضي کيږي چې هغوئي د هغهٔ حمد وکړي- (شُکر کے فضائل، ص:80)

## پهٔ اِيمان باندې د الله پاک شُکر

❁ حضرت احمد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: ما حضرت ابو معاويه اَسوَد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ته عرض وکړو: اے ابو معاويه! ايمان د الله پاک څومره لوئي نعمت دے؟ مونږ د هغهٔ نه دعا کوو چې هغه زمونږ نه دا نعمت واپس وانخلي- هغوئي اِرشاد وفرمائيلو: پهٔ نعمت عطا کوونکي باندې حق دے چې هغهٔ چا ته نعمت ورکوي نو پوره يې ورکړي- حضرت ابو معاويه اَسوَد رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه وفرمائيل: الله پاک د ټولو نه زيات کريم دے چې کوم نعمت عطا کوي پوره يې عطا کوي- چې په چا څهٔ عمل کوي نو قبولوي يې هم - (شُکر کے فضائل، ص: 81)

## د يو ګس پهٔ برکت د ټولو حاجتونه پوره کيږي

❁ حضرت عبد الرحمان بن زيد اسلم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه ارشاد فرمائي: پهٔ اِجتماع کښې (کله) يو ګس (داسې وي چې هغهٔ) د الله پاک حمد وکړي نو پهٔ اجتماع کښې د ټولو شرکت کوونکو حاجتونه پوره کولے شي- (شُکر کے فضائل، ص: 82)

## د ټولو نه وړوکے نعمت

❁ حضرت ابو ایوب احمد بن محمد بن جابر قَرَشي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي چې حضرت داؤد عَلَيۡهِالسَّلَام د الله پاک په بارګاه کښې عرض وکړو: اے الله پاکه! ما ته د خپل د ټولو نه د وړوکي نعمت په باره کښې خبر راکړې نو الله پاک هغوئي ته وحي وفرمائيله: اے داؤده! ساه واخله، هغوئي ساه واخسته نو الله پاک اِرشاد وفرمائيلو چې دا زما په تا باندې د ټولو نه وړوکے نعمت دے- (شُکر کے فضائل، ص:83)

## د خوړلو د نعمت حساب به نۀ کيږي

❁ حضرت تميم بن سَلَمه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: ما ته دا خبره بيان کړے شوې ده: چې کله بنده د خوراک په شروع کښې بِسمِ الله ولولي او په اخره کښې اَلْحَمْدُلِلّٰه ووائي نو د هغۀ نه به د خوراک د نعمتونو په باره کښې پوښتنه نۀ کيږي- (شُکر کے فضائل، ص: 89)

## زما شُکر دې ادا کړے شي

❁ عظيم تابعي بزرګ حضرت حَسَن بَصري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي چې الله پاک کله حضرت آدم عَلَيۡهِالسَّلَام پيدا کړو نو د هغوئي د ښي اړخ نه يې جنتيان او د ګڅ اړخ نه يې دوزخيان راويستل او هغوئي په زمکه باندې روان شول - په هغوئي کښې ځيني ړانده، ځيني کاڼۀ او ځيني په مصيبت وهلي وو نو حضرت آدم عَلَيۡهِالسَّلَام عرض وکړو: اے زما رَبه! تا زما اولاد يو شان پيدا نۀ کړو؟ نو الله پاک ارشاد وفرمائيلو: اے آدمه! زۀ غواړم چې زما شُکر ادا کړے شي- (شُکر کے فضائل، ص:92)

## په آئينه کښې د کتلو په وخت د لوستلو يوه بله دُعا

❁ حضرت اِمام محمد باقر رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به چې کله په آئينه کښې کتل نو دا دُعا به يې لوستله: :" اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ خَلَقَنِیْ فَاَحْسَنَ

خَلْقِیْ وَخُلُقِیْ، وَزَانَ مِنِّیْ مَا شَانَ مِنْ غَیْرِیْ" ترجمه: ټول تعریفونه الله پاک لره دي کوم چې زهٔ پیدا کړم، زما صورت او زما اخلاق یــې بهترین جوړ کړل او ما ته یــې ښکلا راعطا کړه او نورو ته یــې عیب [ورکړو]-

(شعب الایمان، 111/4، حدیث:4459) (شکر کے فضائل، ص 99)

## پهٔ دوزخیانو باندې هم اِحسان

❁ حضرت عبدُ الله بن قاسِم رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ فرمائي چې بے شکه پهٔ دوزخیانو باندې هم د الله پاک اِحسان دے او هغه داسې چې که الله پاک غوښتلے نو هغوئي له به یــې د دې نه هم سخت عذاب ورکړے وو- (شُکر کے فضائل، ص: 101)

## پهٔ اوبو څښلو والا باندې شُکر کول لازم دے

❁ د ټولو مسلمانانو خوږه مور جانه حضرت بي بي عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللہُ عَنْہا فرمائي چې کوم بنده خالصې (یخې او خوږې) اوبه وڅښي او هغه بغیر د تــکلیف نه (وجود ته) داخلې شي او بغیر د تــکلیف نه بهر ووځي نو پهٔ هغهٔ باندې شُکر کول لازم دے- (شُکر کے فضائل، ص: 104)

## د یو عقلمند خط

❁ حضرت علي بن عبد الرحمان رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ بیان کوي چې یو عقلمند کَس د خپل ورور پهٔ نوم باندې خط ولیکو: (د کوم مضمون چې دا دے) اے زما وروره! مونږ د الله پاک د دومره نعمتونو سره سحر کوو چې هغه نهٔ شو شمیرلے حالانکــې زمونږه نافرمانۍ ډیرې زیاتې دي- مونږ ته معلومه نهٔ ده چې پهٔ کومه خبره باندې د الله پاک شُکر ادا کړو، پرله پسې پهٔ میلاؤیدونکــو نعمتونو باندې یا پهٔ دې خبره باندې چې هغهٔ زمونږ عیبونه پټ ساتلي دي- (شُکر کے فضائل، ص: 105)

## د جلد بازۍ [تادۍ] تعریف

❁ د سوچ نه بغير څۀ کار کولو ته "جلدبازي[ تادي]" وئيلے کيږي- دې ته عُجلت هم وئيلے شي- که انسان خپل کارونه د سوچ او غور او فِکر نه پس شروع کړي نو هغې ته تَوَقُّف (يعنې پۀ قلاره ) وئيلے شي او کار پۀ قلاره قلاره پۀ ارام سره کول پکاردي چې پۀ بهتره طريقه باندې سر ته ورسي دې ته تحمل او بردباري (اَنَاةٌ) وئيلے شي- د تخم نه پۀ بوټې، د بوټې نه پۀ ونه او د ونې نه پۀ ميوه داره ونه جوړيدو کښې خولږ وخت لګي- (جلد بازی کے نقصانات، ص: 11، 12)

## ښۀ بد او بد ښۀ ګڼل

❁ تر څو پورې چې پۀ يو کار باندې نۀ پوهيږې نو پۀ هغې کښې تادي نۀ دي کول پکار- ځکه چې پۀ تادۍ کښې انسان ښۀ بد او بد ښۀ ګڼي-
(جلد بازی، ص: 14، 15 ملتقطاً)

❁ د عربۍ متل دے: "اِنْ لَّمْ تَسْتَعْجِلْ تَصِلْ " يعنې که تاسو تادي نۀ کوئ نو خپل منزلِ مقصود ته به ورسئ- (جلد بازی کے نقصانات، ص 17)

❁ کوم انسان چې د تجربو نه فائده نۀ اخلي هغۀ نۀ شي کاميابيدے-
(جلد بازی کے نقصانات، ص: 18)

❁ تادۍ ته اُمُّ النَّدامَةِ (يعنې د پښيمانتيا مور) وئيلے شوې ده-
(جلد بازی کے نقصانات، ص: 18)

## د رسولِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ شان نـمونځ

❁ حضرت اِمامِ مالِک رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ پۀ حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ پسې نـمونځ وکړو د هغوئي د هغۀ نـمونځ ډير خوښ شو او اوئې فرمائيل: ما د دې ځوان نه زيات د رسولِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ شان نـمونځ کوونکے څوک نۀ دے ليدلے- (جلد بازی کے نقصانات، ص: 28)

❁ بے شکه دومره تجوید چې پهٔ کوم باندې تصحیحِ حُرُوف وي (یعنې د تجوید او د قاعدو مطابق حرفونه پهٔ صحیح مخارجو سره ادا کړے شي) او د غلط لوستلو نه بچ شي فرضِ عین دے- (جلد بازی کے نقصانات، ص: 36)

## پهٔ تراویح کښې اِمام پهٔ قراءت کښې پریشانه کول

❁ د خپل حِفظ د ښودلو د پاره پهٔ معمولي شان شک باندې وردیدل رِیا ده- د اِمام د پریشانه کولو د پاره بیا بیا فتح ورکول پهٔ حقیقت کښې د یهودیانو کار او د لَاتَسۡمَعُوۡا لِهٰذَا الۡقُرۡاٰنِ وَالۡغَوۡا فِیۡهِ پهٔ حکم کښې داخل دے-
(جلد بازی کے نقصانات، ص 42،43 مُلتقطاً و مُلخصاً)

## د وظائفو پهٔ اثر کولو کښې شرائط

﴿1﴾ حُسنِ اِعتقاد (یعنې پوخ یقین ) ﴿1﴾ صبر او تحمل ﴿3﴾ د جَمعې سره د نـمونځ کولو پابندي-(جلد بازی کے نقصانات، ص 55 ملخّصاً)

❁ عظیمه صحابیه حضرت اَسما بنتِ ابو بکر صِدّیق رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہا فرمائي: نکاح کول زنانه وینزه جوړول دي ځکه غور کول پکار دي چې هغه د خپلې لور نکاح چرته کوي- (جلد بازی کے نقصانات، ص: 58)

❁ د ډیر کوشش باوجود که پهٔ یوه شعبه کښې کامیابي میلاؤ نهٔ شي نو د هوښیار اِسلامي وررور سره مشوره وکړئ او شعبه بدله کړئ- (جلد بازی کے نقصانات، ص75)

## د خوند د پاره ګناه کول

❁ د خوند د پاره ګناه مهٔ کوئ، چې خوند ختم شي نو ګناه به باقي پاتې شي او د مشقت پهٔ وجه نیکي مهٔ پریږدئ، مشقت به ختم شي، نیکي به باقي پاتې شي-
(جلد بازی کے نقصانات، ص 89)

## د جاهل صفتونه

❁ كَثْرَةُ الْاِلْتِفاتِ و سُرْعَةُ الجَوابِ يعني ډېر زيات اخوا ديخوا کتل او په جواب ورکولو کښې تادی کولو والا- (جلد بازی کے نقصانات، ص94)

## د اِعتِماد فضا ختمول

❁ که د مذهبي تحريک سره په تړون لرونکو خلقو کښې بد ګماني پيدا شي نو د نِګران او د ماتحت ترمينځه به د اِعتِماد فضا ختمه شي، بعضې وخت کار په ظاهره غلط ښکاري خو په حقيقت کښې داسې نه وي ځکه ممکنه ده چې کوونکے هغه په هيره کوي او ازاد شي يا ليدونکے په غلطۍ باندې وي- (جلد بازی کے نقصانات، ص94)

❁ ناوخته رسيدل د نه رسيدو نه بهتر دي- (جلد بازی کے نقصانات، ص103)

❁ تادي ساز کار ورانوي- (جلد بازی کے نقصانات، ص108)

## د اِصلاح انداز

❁ صحابي رسول حضرت ابو درداء رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: د خلقو په مخکښې څوک پوهه کول ذليله کول دي خو په تنهايۍ کښې پوهه کول اِصلاح کول دي- (جلد بازی کے نقصانات، ص108)

## د خواهش جواب

❁ د حضرت عمر بن عبد العزيز رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه پوښتنه وکړے شوه مَا تَشتَهِي؟ يعني ستاسو څه خواهش دے؟ اوئي فرمائيل: مَا يَقضِي الله يعني څه چې د الله پاک حکم وي- (جلد بازی کے نقصانات، ص109)

❁ د اِنسان د فضل او د کمال جوهر (يعني قابليت) د خبرو کولو نه پس ظاهريږي- (جلد بازی کے نقصانات، ص119)

❁ حضورِ اکرم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائي: کار پهٔ تدبير (يعنې پهٔ سوچ او فِکر) سره کوئ، بيا که د هغې پهٔ کولو کښې خير ووينئ نو اوئې کړئ او که د ګمراهۍ انديښنه وي نو منع شئ- (شرح السنة للبغوی، 545/6، حدیث: 3494)

شرح حديث: کوم کار چې کول وي وړومبے د هغې پهٔ انجام باندې سوچ وکړئ بيا کار شروع کړئ، که تاسو ته د يو کار پهٔ انجام کښې د دِين يا د دُنيا خرابي پهٔ نظر راشي نو هغه کار مهٔ شروع کوئ او که شروع کړے مو وي نو منع ترې شئ او هغه مهٔ پوره کوئ- (مرآۃ المناجیح، 626/6 ملخصاً) (جلد بازی کے نقصانات، ص 128)

پهٔ حديثِ پاک کښې دي: اِطمينان دې پهٔ هر څيز کښې وي سوا د اخرت د کار نه- (ابو داؤد، 335/4، حدیث: 4810) (جلد بازی کے نقصانات، ص 136)

❁ شيطان د نيکۍ پهٔ کار [په انسان باندې] ورستو کوي او بيا يې ترې منع کړي- (جلد بازی کے نقصانات، ص 136)

❁ د جَنابَت (يعنې د غُسل فرض کيدو) پهٔ حالت کښې کم از کم د اودس کولو نه پس اودهٔ کيږئ- (1) پهٔ حديثِ پاک کښې دي: پهٔ کوم کور کښې چې جنبي (بے غُسله) وي هلته د رحمت فرښتے نهٔ راځي-

(ابو داؤد، 109/1، حدیث: 227) (جلد بازی کے نقصانات، ص 146)

❁ پهٔ حديثِ پاک کښې دي: پهٔ توبه کښې د ناوخته کولو نه بچ اوسئ ځکه چې مرګ زر راځي- (الترغیب والترہیب، 48/4، رقم: 18) (جلد بازی کے نقصانات، ص 147)

---

[1]... پهٔ بهارِ شريعت کښې دي: پهٔ چا باندې چې غسل واجب دے هغهٔ له پکار دي چې پهٔ لامبلو کښې نهٔ ناوخته کوي که دومره ناوخته کړي چې د نمونځ اخري وخت راغلو نو بيا فوراً لامبل فرض دي، بيا که ناوخته کوي نو ګنهګار به کيږي- (د نورو تفصيلاتو د پاره د بهارِ شريعت جلد 1، حصه: 2، صفحه 325 لولئ)


## د چا پۀ اِصلاح کښې مۀ ناوخته کوئ

❁ څوک پۀ ګناه کښې پۀ لیدو پۀ ښه طریقه پۀ نرمۍ او شفقت سره د هغۀ پۀ اِصلاح کښې مۀ ناوخته کوئ- (جلدبازی کے نقصانات، ص155)

❁ که د جُمعې د نـمونځ نه مخکښې جنازه تیاره شي نو د ډیرو خلقو د راجمع کیدو انتظار نۀ دي کول پکار بلکې جنازه وکړئ- (جلدبازی کے نقصانات، ص156)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

د راروانې هفتې رساله





فيضانِ مدينه محلّه سوداګران زړه سبزي منډۍ کراچۍ

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net